PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

فرمان الهی

ای کسانی که ایمان آورده اید خود و خانواده خویش را از آتشی که هیزم آن انسانها و سنگهاست نگه دارید؛ آتشی که فرشتگانی بر آن مؤظف شده که خشن و سختگیرند و هرگز مخالفت فرمان خدا را نمی کنند و آنچه را فرمان داده شده اند (به طور کامل) اجرا می نمایند!

(سورة التغابن، آیت ٦)

نبوی ارشاد

له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
کوم سړی چې د لمونځ اهتمام وکړي نو د قیامت په ورځ لمونځ د هغه لپاره رڼا ګرځي، د حساب په وخت ورته دلیل ګرځي او د نجات سبب ورته جوړیږي، او کوم سړی چې د لمونځ اهتمام ونکړي، د هغه لپاره به د قیامت په ورځ نه رڼا وي، نه دلیل او نه هم د نجات ذریعه، هغه به له فرعون، هامان او ابی بن خلف سره پاځیږي. (مشکواة)

شهادت دویم کال، ۲۰ مه ګڼه، سه شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د غبرګولی ۱۱ مه د۱۴۳۱ هـ ق د جمادی الاخر ۱۸ مه د۲۰۱۰ م د جون لومړی

حزب اسلامي افغانستان د سولې ملي مشورتي جرګې نه خپل ملاتړ اعلان کړ

دا جرګه باید تبلیغاتی او نمایشی نه وي، بلکه د سولې په راوستو کې دې عملي ګامونه پورته کړي

د غبرګولی په نهمه د هیواد پلازمینې کابل په کابل شاهان هوټل کې حزب اسلامي افغانستان د یوې درنې غونډې په ترڅ کې د سولې ملي مشورتي جرګې نه د خپل بشپړ ملاتړ اعلان وکړ.

غونډه چې د حزب اسلامي افغانستان د رئیس او د اقتصاد محترم وزیر الحاج عبدالهادی ارغندیوال په مشرۍ جوړه شوی وه د حزب اسلامي د پارلماني غړو ترڅنګ د ببلا ببلو قومونو مشرانو جهادي شخصیتونو او جرګې ته رابلل شوو میرمنو هم ګډون درلود، د سولې ملي مشورتي جرګې نه خپل ملاتړ اعلان کړ.

غونډه د عظیم الشان قرآن د مبارکو آیاتو په تلاوت سره پرانستل شوه، وروسته د اقتصاد محترم وزیر الحاج ارغندیوال ته بلنه ورکړ شوه، ښاغلی ارغندیوال په روانو حالاتو کې د یوې داسې جرګې د جوړیده په ارزښت ارزښتناکې خبری وکړي او زیاته یې کړه:

حزب اسلامی په ولس مشری انتخاباتو کې د منتخب ولسمشر ښاغلی کرزی په دې شرط حمایت وکړ چې د جګړو د ختمولو او د خارجی قواوو د موجودیت د منتفی کولو لپاره به ملی اجندا جوړوي او په دې لاره کې به جدي هلې ځلې کوي.

اوس چې د سولې مشورتي جرګه دجوړیدو په درشل کې ده نو حزب اسلامي افغانستان ددې شرطونو دحاصلولو په مقصد.....

پاتې ٤ مخ

وزارت اقتصاد اظهارات گرداننده نورین را مبنی بر گزارش آنها غیر مسؤولانه خواند

کابل، رسانه ها:

وزارت اقتصاد کشور اظهارات گرداننده تلویزیون نورین را مبنی بر انجوی بین المللی بنام کلیسای ناروی که متوجه وزیر اقتصاد بوده است غیر مسؤولانه خوانده و وزیر اقتصاد را یک شخص مجاهد خطاب نموده است.

در اعلامیه که امروز از وزارت پخش گردیده، آمده است:

به تاریخ ۱۳۸۹/۳/۶ از تلویزیون نورین در رابطه به انجوی بین المللی به نام کمک های کلیسای ناروی راپوری به نشر رسید که در آن گرداننده این تلویزیون به دفتر انجوی یاد شده رفته بود و مطابق همان فلم ویدیویی که از آن تلویزیون نشر شد انجوی کلیسای ناروی مردم افغانستان را به دین عیسویت دعوت میکند.

به نقل از اعلامیه، انجوی کلیسای ناروی در سال ۱۹۹۸ میلادی در زمان حاکمیت رژیم طالبان ثبت و راجستر وزارت پلان اسبق شده که از آن به بعد در هر سال راپور فعالیت های خود را مطابق قوانین افغانستان و قانون انجوها به وزارت اقتصاد سپرده است.

در اعلامیه نگاشته شده که، موسسه مذکور تنها در سال ۱۳۸۸ به ارزش بیشتر از ۸ میلیون دالر را در اجرای دها پروژه در ولایات، کابل، ننگرهار، فاریاب، دایکندی، بامیان و ارزگان میباشد که در بخش های مختلف به مصرف رسانیده است.

اما به نقل از اعلامیه، وزارت اقتصاد این تخطی موسسه غیر دولتی را به طور جدی بررسی میکند و در صورتیکه این عمل زشت از سوی انجوی یاد شده و یا هم دیگر انجوها انجام شده باشد وزارت اقتصاد نه تنها به نسبت این تخطی فعالیت انجوی متذکره را متوقف مینماید بلکه انجوی یاد شده را به ارگان های عدلی و قضایی نیز معرفی میکند.

در اعلامیه آمده است که، به منظور بررسی همه جانبه موضوع یک کمیسیون با صلاحیت در چوکات وزارت اقتصاد و ارگان های زیربط به شمول موسسه هماهنگی اکبر تعین خواهد شد .....

بقیه در صفحه ۴

مجددي: خلیلي هزاره قوم جګړې ته هڅوي

خلیلي یوازې دهزاره ګانو نه، بلکې د ټول افغانستان لپاره دولسمشر مرستیال دی

کابل، رسنی:

د مشرانو جرګې رییس، د ولسمشر پر دویم مرستیال کریم خلیلي تور ولګاوه، چې په بهسودو ولسوالی کې خلک جګړې ته هڅوي.

همدا راز د مشرانو جرګې مشر حضرت صبغت الله مجددي ویلي، چې کریم خلیلي د دې پر ځای چې د شخړې په سرولو کې مرسته وکړي، هزاره ګان یې نور هم جګړې ته هڅولي دي. د ده په وینا چې خلیلي یوازې دهزاره ګانو نه، بلکې د ټول افغانستان لپاره دولسمشر مرستیال دی. کریم خلیلي چې په خپله بهسودو ته تلا ... ویلي و چې دی به دبهسود د خلکو تر ... ایه ولاړ وي او ددوی ستونزه به لرې کوي، حتی که د وینې په بیه یې هم تمامه شي. د افغانستان د اساسي قانون ۶۶ ماده وایي، چې د ولسمشر مرستیالان نه شي کولی له خپل موقف څخه د قومي، مذهبي او لساني ګټو لپاره کار واخلي.

دیوه بل خبر په اساس کریم خلیلی او چکري په اختلاس کی شریک وبلل شول. د حج او اوقافو وزارت د پخواني سرپرست وزیر صدیق چکري ملګری او د دې وزارت خزانه دار محمدنور چې د کابل په هوایي ډګر کې د ۳۶۲۰۰۰ ډالرو سره نیول شوی و وایي چې له صدیق چکري سره په اختلاس کې د ولسمشر دویم مرستیال کریم خلیلي هم لاس درلود او باید ترې پوښتنه وشي. نوموړي اسوشیټیډ پریس آژانس ته دخپلې محکمې پر مهال ویلي، چې ده ته معلومات نه وو، چې صدیق چکري دغه پیسې په کومه موخه اخستې. ده زیاته کړې چې دا پوښتنه باید دچکري او د ولسمشر کرزي له....

پاتې ٤ مخ

شواهد موثق در خصوص فعالیت ایران در افغانستان موجود است

کابل، رسانه ها:

نیرو های ناتو در افغانستان می گویند، که در رابطه به دست داشتن ایران در مسایل افغانستان شواهد دقیق به دست دارند. جنرال مک کرستال قوماندان عمومی نیروهای ناتو و امریکایی در افغانستان به روز یک شنبه به خبرنگاران گفت، ایران به شکل منظم برای مخالفان مسلح دولت سلاح فراهم کرده و آنان را پرورش می دهد.

نیروهای ناتو در افغانستان به این باور اند، که ایران هم مانند برخی از همسایه گان افغانستان در این کشور اهداف خاص را تعقیب می کند، و برای به دست آوردن آن تلاش می کند.

نیروهای خارجی در افغانستان بار بار ایران را به فراهم کردن کمک های نظامی به مخالفان مسلح دولت و دامن زدن نا امنی ها در جنوب این کشور متهم کرده اند.

جنرال مک کرستال قوماندان عمومی نیرو های ناتو و امریکایی به روز یک شنبه در کابل یک بار دیگر به خبرنگاران گفت، که آنان در دست داشتن ایران....

بقیه در صفحه ۴

صلح؛ راه حل منطقی بحران افغانستان

صفحه دوم

ناټو: په افغانستان کې سختې ورځې په مخ کې لر



کابل، رسنی:

په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونوعمومي قوماندان وایي، چې په دې هیواد کې سختې ورځې په مخ کې لري.

جنرال سټینلي مک کریسټل چې د یکشنبې په ورځ یې د ناټو د ملکي استازي مارک سیډویل سره په یوې خبري غونډې کې خبرې کولې وویل، چې په افغانستان کې به د سولې په برخه کې د روانو هڅو هم په بشپړه توګه ملاتړ وکړي.

په داسې حال کې، چې د افغان حکومت هغو هڅو چې مخالفین دې د سولې په بهیر کې ګډون ته وهڅوي چندان نتیجه نه ده ورکړې، امریکایي چارواکي وایي، چې د سولې په بهیر کې د مخالفینو ګډون وي سیاسي شفافي پروسې ته اړتیا لري.

په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سټینلي مک کریسټل د یکشنبې په ورځ په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل، چې دغه هڅې باید په محلي او ملي توګه ترسره شي:...

پاتې ٤ مخ

د کابل جلال آباد دویم او سروبي جبل السراج لومړی سړکونه جوړیږي

د افغانستان د فواید عامې وزارت د شنبې په ورځ د سړک جوړونې د درېیو شرکتونو سره د کابل، جلال اباد د دویم سړک او سروبي جبل السراج د سړک د لومړیو برخو دجوړونې تړون لاسلیک کړ. د دغو سړکونو دجوړنې لپاره د اسیا پراختیایي بانک د ۴۰۰ ملیونو ډالرو مرستې ژمنه کړې ده.

د کابل، جلال اباد او سروبي، جبل السراج دسړکونو په جوړولو سره به د ترانسپورتي ستونزو د هوارې تر څنګ به لاره کې د پرتو سیمو د بزګرو او باغدارانو د حاصلاتو لپاره دبازار موندې ښه اسانتیا هم برابره شي.

د دغو سړکونو د لومړۍ برخې د جوړولو تړون د شنبې په ورځ په کابل کې د افغانستان د فواید عامې وزارت او د ګټونکو شرکتونو تر منځ لاسلیک شول.

د افغانستان د فواید عامې وزارت سرپرست وزیر صحراب علي سفري د دغه تړون دلاسلیکلو پر مهال وویل:

"دا یو کانکریټي سړک دی ....

پاتې ٤ مخ

د نیشه یي توکو پر خلاف نړیواله مبارزه سیاسي لاملونه لري

دریمه مخ

د لوی او مهربان خدای په سپیڅلي نامه

د سولې په نیک کار کې ځنډ نه دی پکار

هر مسلمان په دې خبره کلک ایمان لري چې الله جل جلاله او دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم سولې او روغی جوړی ته خیر ویلی دي، او الله چې کوم کار ته ښه ویلی دي په هغه کې غور او فکر کولو ته ضرورت نه وي بلکې پر هغه ژر تر ژره عمل پکار دی. د سولې په کار کې چې څومره ځنډ راځي تاوان یې هغومره زیاتیږي، ځکه چې د خیر ضد شر دی او چې کله خیر پرېښودل شي دهغه ځای خامخا شر نیسي.

سره لدې چې د شر تاوانونه ښه ښکاره دي او موږ د څو لسیزو راګالو مګر بیا هم د شر د له منځه وړلو او پر ځای د سولې د ټینګولو له پاره د عملي ګامونو له پورته کولو ډډه کوو.

د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم او اصحاب کرامو خو د مکې له مشرکینو سره هم په حدیبیه کې د سولې لوظنامه لاس لیک کړی و او نه یې غوښتل چې انسانیت د اور په لمبو کې وسوځیږي. خو مشرکینو دغه لوظنامه ماته کړه او محمد صلی الله علیه وسلم یې دیته اړ وویست چې دهغوی مقابله وکړي.

د مسلمانانو په منځ کې خو پر ورورولی او یووالي تاکید شوې دی او همدا حکم ورته شوی چې تاسی پخپلو منځونو کې ورونه یاست نو ځکه د سولې په فضا کې ژوند تیر کړئ.

الله تعالی خو مسلمانانو ته (بنیان مَرَصُوص) ویلي دي په دې معنی چې مسلمانان باید د کلکې بنیاد په څیر په اتفاق او یووالي کې ژوند تیر کړي، د اسلام او خاوری د دښمنانو په خلاف د کلکې دیوال په څیر ودریږي او هیڅ‌کله اجازه ورنکړي چې دهغوی په دغه کلکې بنیاد کې درز پیدا کړي.

په مسلمانه ټولنه کې د مخالف او موافق هیڅ تصور نشته هر مسلمان د بل مسلمان صرف موافق کیدلې شي نه مخالف، د مسلمانانو ترمنځ د مخالفینو او موافقینو اصطلاح له سره کارول نه دي پکار، چاته مخالف ویل او هغه د مخالف په صف کې ودرول پخپل ځای دښمنی ته لمنه وهل دي.

په افغانستان کې چې د څو لسیزو راهیسې د مسلمانانو ترمنځ د دښمنی کومه لړی روانه ده ددې له منځه وړل او د وروري فضاء منځته راوستل د هر رښتونی افغان دنده ده.

لوی الله جل جلاله پخپل کتاب قرآن کریم کې د امر په صیغه مسلمانانو ته حکم کړیدی چې مؤمنان پخپلو کې ورونه ورونه دي نو ځکه د دوه مؤمنانو ترمنځ روغه جوړه وکړئ، او له الله نه وویریږئ تر څو پر تاسو رحم وکړی شي. (حجرات)

همدغه راز الله جل جلاله د نساء په سوره کې فرمایلی دي چې په ډیرو مجلسونو کې خیر نشته، مګر دهغه چا په مجلس کې خیر دی چې خلکو ته د صدقی ورکولو یا د نیکۍ خبرې کولو او یا هم د خلکو ترمنځ د سولې کولو حکم وکړي.

په حدیث شریف کې د سولې او روغی کولو ثواب، له لمونځ او روژې نه هم زیات ښودل شوی دی.

یوه ورځ محمد صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو کرامو ته وویل: آیا زه تاسو ته داسې څیز ونه ښایم چې دهغه مرتبه له لمونځ، روژه او صدقې ورکولو نه هم زیاته ده؟ اصحابو کرامو ورته وویل: ولې نه راته وښایې، هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: پخپلو منځونو کې روغه جوړه او اتفاق کول، پخپلو منځونو کې بې اتفاقي او تفرقه کول ایمان له منځه وړي. (ابو داود)

د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم په یو بل حدیث کې فرمایي: هر څوک چې د خلکو ترمنځ روغه جوړه وکړي الله تعالی به دهغه مخکینی ټول ګناهونه وبخښي. (ترغیب)

له دغه پورتني آیت شریف او نبوي احادیثو څخه د سولې او روغی جوړې فضیلت ثابت شو د روغی جوړې او سولې ژوند یواځې مسلمانو ته ځانګړی نه دی بلکې له غیر مسلمو سره هم د ضرورت په وخت کې د سولې کولو حکم شویدي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې له مشرکانو او یهودو نصاراو سره هم د سولې تړونونه کړي وو.

د التوبی په سوره کې په ښکاره ډګه ویل شویدي چې که چېرته کافران روغی جوړې ته چمتو شي نو تاسي هم ورسره روغه جوړه وکړئ.

ډېر د افسوس خبره ده چې موږ د الله پر کتاب او نبوي سنت باندې د ایمان لرلو باوجود بیا هم د روغی جوړې او سولې له خوږې فضاء څخه محروم ژوند تیروو.

پکار خو دا و چې زموږ په هیواد او ټولنه کې د روغی جوړې خوږه فضاء حاکمه وای او موږ پخپلو کې د یو بدن د غړو په څیر په پوره هم آهنګی سره ژوند تیر کړی وای، موږ د سولې او روغی جوړې په ډګر کې نورو ګړو لپاره بیلګه ګرځیدلي وای او په دې کار کې هغوی زموږ تقلید کړی وای. دا چې وړاندې موږ له غفلت او کوتاهی نه کار اخستي د سولې په څیر د لوی نعمت اهمیت مو نه دی پیژندلی پر هغه موږ ته توبه ویستل او پښمانه کیدل پکار دي، له همدې ورځې نه په نوی جذبه د سولې دغه خیر کار ته په پوره اخلاص او صداقت ګامونه اوچتول پکار دي تر څو د لوی الله د رحم حقدار وګرځو. غمونه مو لیرې او ټپونه مو پټې شي، کړاوونه مو لیرې او آرام ژوند مو په نصیب شي، د جنګ ترخه فضا ختمه او پر ځای د مینې او ورور ګلوي ګلونه وټوکیږي.

دا حقیقت باید په سر سترګو ومنو چې لږ تر لږه پخپل هیواد کې د سولې او ورور ګلوي فضاء رامنځته کول زموږ د ټولو افغانانو، ایماني، اسلامي، اخلاقي دنده ده تر څو پورې چې موږ دغه ستر مسؤولیت نه وي ترسره کړې د الله تعالی د رحم او عاطفې تر سیورې لاندې نه شو راتلای په دې نیمګړی دنیاګی کې به د غم او ویر په ټغر کې ناست یو او د آخرت په تل پاتي ژوند کې به هم د دوزخ په اور کې سوځیږو.

صلح؛ راه حل منطقی بحران افغانستان

اعزامی

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

باوجود فیصله بارک اوباما مبنی بر افزایش چهل هزار عسکر دیگر در چوکات نیروهای آیساف و ناتو و اعزام آنها تا اواسط امسال به افغانستان، بحران کشور ما از راه نظامی حل نمی گردد. افزایش قوای خارجی بجای اینکه در کاهش و فروکش کردن جنگها اثر گذار باشد، برعکس عامل تشدید و دوامدار شدن بحران می گردد. چنانچه طبق ارقامی که اخیراً از طرف سازمان ملل متحد به نشر رسیده، تعداد تلفات ملکی در سال ۲۰۰۸ در افغانستان چهل فیصد بیشتر از سال ۲۰۰۷ بوده و همچنان در جریان سال ۲۰۰۹ میلادی این تعداد ۲۹ فیصد دیگر افزایش یافته است. فیلز بینز نویسنده و تحلیل گر فعال شرق میانه که در یک انستیتوت امریکایی در واشنگتن صحبت می کرد، گفت که جنگ افغانستان راه حل نظامی ندارد و برای فروکش کردن بحران در افغانستان، بهتر است ایالات متحده امریکا بجای اقدام در جهت افزایش قوا، در مورد اخراج نیروهایش فکر کند. نامبرده تلفات نیروهای امریکایی را در افغانستان به تناسب سال گذشته بیشتر گزارش داده می گوید: در ربع اول سال جاری تعداد عساکر امریکایی که در افغانستان کشته شده به ۱۰۰ تن رسیده که این رقم دو برابر تلفات سال گذشته در همین ربع می باشد و البته این مرگبارترین تلفات عساکر امریکایی از آغاز جنگ سال ۲۰۰۱ به اینسو می باشد.

تحلیل گران را عقیده بر آنست که واشنگتن باید بجای ترکیز روی فعالیت های نظامی، در بخش های فعالیت های سیاسی، انکشاف اقتصادی و مساعدت های بشری در افغانستان توجه نماید، زیرا در گذشته قسمت اعظم بودجهٔ اختصاص یافتهٔ واشنگتن برای افغانستان در بخش امور نظامی مصرف گردیده و یک فیصدی کم آن به فعالیت های غیر نظامی هزینه شده است.

طبیعی است در هر کشوریکه جنگ مشتعل شود، ویرانی به بار می آورد و با وجود داشتن توجیهات لازم مبنی بر اشتعال آن، دشوار است که ذهنیت جریحه دار شده متضررین را مرهم گذارد. روی همین ملحوظ است که ستراتیژیست های امور نظامی ایالات متحده امریکا، امروز متوجه شده اند که با کمبود کارکنان کمکهای بشری مواجه اند و تلاش دارند تا این نقیصه را مرفوع سازند.

طرح رئیس جمهور ایالات متحده امریکا، مبنی بر اینکه خروج تدریجی قوا از جولای سال آینده آغاز می گردد، نیز مبتنی بر همین اصل است که ازدیاد قوا به مفهوم دیر ماندن قوا نیست، بلکه تشدید جنگ به زعم آنها بخاطر شکست و ضعف طرف مقابل بوده و در نتیجه آنها زودتر سر میز مذاکره حاضر شده و با امتیازات کمتری به ترک مخاصمت قانع می شوند. تشدید جنگ باعث میشود که به مردمان ملکی صدمه بیشتر برسد، زنان، اطفال و کهن سالان که توان کناره گیری از میدان جنگ را در جریان عملیات ها ندارند، متضرر شوند و یا اینکه بنابر سهو و اشتباه عساکر نابلد خارجی، بسوی آنها شلیک شود که در این اواخر حوادثی ازین قبیل در کندهار، کنر، خوست، ننگرهار، زابل و کندز به کرات اتفاق افتاده است، چنانکه در گذشته خارجی ها پس از هر عملیات اشتباه آمیز عذر خواهی میکردند، ولی اکنون موضوع از سرحد عذر خواهی فراتر رفته است.

تا دو سال قبل، بسیاری از صاحب نظران به این فکر بودند که جنگ افغانستان، یک عمل خوب، قانونی و معقول است و بار این جنگ را اعضای ناتو گویا که بخاطر دفاع از مردم کشورهای خود شان تحمل می کنند و یا بعبارهٔ دیگر جنگ جاری را پاسخ حملات ۱۱ سپتامبر جنگجویان افراطی می دانستند، مگر به این حقیقت کمتر توجه می شد که عاملین حادثهٔ ۱۱ سپتامبر کی ها بودند؟ و مردم افغانستان که امروز بخاطر آنها رنج جنگ را می کشند، چقدر در سازمان دهی آن حادثه نقش داشتند؟

در حالیکه در جمله حمله کنندگان و برنامه ریزان حادثه مزبور، یک تبعهٔ افغان هم دخیل نبود و آنچه که باعث شد افغانستان به میدان جنگ مبدل شود، فقط انکار رژیم طالبان از تحویلی اسامه بن لادن به مقامات امریکایی بود. در اثر حملات هوایی نیروهای امریکایی بالاخره رژیم طالبان سقوط کرد. مگر مردم افغانستان هشت ونیم سال می شود که از این بابت رنج می کشند و نیروهای خارجی به طور روز افزون هر سال تلفات بیشتر می دهند و ملیاردها دالر صرف این جنگ بیهوده میشود. اکنون این حقیقت که جنگ راه حل منطقی بحران افغانستان نیست، به یک واقعیت تبدیل شده است، از خارجی ها گرفته تا متفکران، دانشمندان و سیاستمداران در داخل کشور، همه به این نظر اند که باید از راه صلح و مذاکره به این جنگ پایان داده شود.

طالبان هم دیگر آن قدرت چند سال قبل که بخواهند به تنهایی بر قدرت سیاسی قبضه کنند و چون گذشته یک تهدید برای منافع دیگران باشند، نیستند. چنانچه از گفت و شنودهای پشت پرده بر می آید که آنها به انصراف از یکه تازی اطمینان داده اند. همچنان حضور نیروهای خارجی بخاطر نبودن امنیت و حملات روز افزون مخالفین بر دولت طولانی گردیده است، اگر دولت از راه مصالحه و تفاهم، مخالفین مسلح را در قدرت شریک سازد، طبیعی است که دیگر آنها از جنگ و مخالفت دست برداشته و با پیوستن به صف دولت به بحران موجوده پایان می بخشند.

تشکیل جرگه ملی مشورتی صلح که قرار است به ابتکار جناب حامد کرزی به تاریخ ۸ جوزا در کابل تدویر یابد، نقطه عطفی است در جهت پایان دادن به سه ونیم دهه بحران افغانستان؛ رایزنی ها، مشوره ها و آمادگی های سیاسی و روحی برای برگزاری این جرگه بزرگ که زمینه سازی های ابتدایی آن چند سال قبل آغاز شده بود، در جریان مبارزات انتخابات ریاست جمهوری، حامد کرزی به آن روح تازه ای بخشیده و طی سه ماه اخیر کار تدویر آن به سرعت به پیش می رود، مایهٔ امید و اطمینان برای تمامی افغان ها گردیده که بخواست خدا با کامیابی این جرگه جنگ و بحران در کشور ما برای ابد پایان خواهد یافت و افغان ها همه در کنار یکدیگر پس از چهار دهه مصیبت و جنگ، برای آبادانی و ترقی کشور شان کار نمایند.

اکنون همگان چشم به راه برگزاری موفقانهٔ این جرگه مشورتی صلح اند و امیدوارند که جناب حامد کرزی همچون اقدامات قاطع گذشته اش، این بار نیز با کسب حمایت و موافقت از بازیگران سیاسی داخل و خارج کشور، طرح مصالحه ملی خود را به منصهٔ اجرا گذاشته و صفحه جدیدی را در تاریخ کشور بگشاید.

د نېشه يي توکو پر خلاف نړيواله مبارزه سياسي لاملونه لري!

فهيم

د نېشه يي توکو پر خلاف نړيوالې مبارزې چې زموږ په هېواد کې له نژدې دوو لسيزو راهيسى زور اخيستى يوه داسې مبارزه ده چې نړيوال سياسي لاملونه او ريښې لري.

په دغه مبارزه کې چې د نېشه يي توکو کر او قاچاق په ډېر قوت يو بشري ناورين تبليغيږي خو دوی لا تراوسه په خپلو هېوادونو کې نه خو د نېشه يي توکو خپل سوداگر نيولي، نه يې په نېشه يي توکو روږدي ښودلي او نه يې هم د نېشه يي توکو د سوداگرو پرخلاف کومه مسوده، مصوبه او توشيح کړې ده.

د نېشه يي توکو پر خلاف نړيوالو که تر ننه د نېشه يي توکو د سوداگرو تورونه په چا لگولي او يا خو يې په خپلو هېوادونو کې ددغو سوداگرو دنيولو خبرونه خپاره کړي هغه دهمدغو هېوادونو خپل سوداگر نه، بلکې د نورو هيوادونو تبعه دي. که دمسکو، جرمني، پاريس، لندن او واشنگټن په کمپنيو کې جوړ شراب افغانستان ته را رسول کېږي مسلمه ده چې ډېری دا سوداگر به افغانان وي، پلورونکي به يې افغانان وي او څښونکي به يې هم افغانان.

خو که افغانی اړوندې اداري ددغه ډول سوداگرو، پلورونکو او څښونکو د نيوني او مخنيوي په اړه گام اخلي طبعاً چې افغان پيرودونکي، پلورونکي او څښونکي افغان شرابيان به په لاس ورځي او له قانوني لارو به د خپلو ناروا کړنو سزا ويني. او هم به اړوند افغان چارواکي د هېواد په بندرونو کې په را واردوونکو سوداگريزو توکو او مصنوعاتو څار ساتي.

تر دې هاخوا افغان چارواکي به هيڅ معقوليت او حق ونه لري چې په مسکو، جرمني، پاريس، لندن او واشنگټن کې ددغو هېوادونو د شرابو توليدوونکې کمپنی تر بريد لاندې راولي او په خپلو سوداگرو او شرابيانو بيا د گل وار هم ونه لوروي.

که د نېشه يي توکو پرخلاف مبارزه کوم سياسي لامل ونه لري، دا بيا کومه ستونزه ده چې څوک سيگرېټ تدخينوي خپله راتلونکې او ژوند بربادوي دا د نورو، او بيا لا دهغو لوريو ولې زړه ورته خوږين دی چې دين يې نېشه او مستي ده او خپله د نېشه يي توکو او سيگرېټو د تدريج په انځوريزو اعلانونو په ميلياردونو ډالر لگوي؟!

له سيگرېټو او يا ددوی په لاس له جوړو نېشه يي توکو سره په مبارزه کې يوازې د ټلويزيونونو له لارې په انځوريزو سوداگريزو اعلانونو کې ددغو توکو د ډېری کمالونو له ښوولو او تلقينولو وروسته يوازې له دې ساده جملې کار اخيستل کېږي چې نېشه يي توکي روغتيا زيانمنوي.

آيا نېشه کومه ساري ناروغي ده؟!

که څوک ځان ته زيان رسوي، ځواني بربادوي له توصيې پرته نور څه ورسره کيدلای شي؟!

که نېشه د خوښې خبره شي او يو ځوان په خپله خپله راتلونکې بربادوي. بلا ورپسې په همدې لامل ويلای شو چې د نېشه يي توکو پرخلاف مبارزه په معقولو او رښتينو بنسټونو ولاړه نه ده په حقيقت کې نړۍ له نېشه يي توکو سره نه بلکې زموږ د ببوزلو بزگرو له کرنيزو محصولاتو او د کوکنارو له تنکي بوټي سره سياسي مبارزه کوي چې له معقوليت او حقوقي اصالته خلاصه ده. که نړۍ نن زموږ کوکنار د نېشه يي توکو په حيث پيژني دا خواږه انگور، مړاوي مميز د آسونو روزي (وربشې) او ډول، ډول حبوبات بيا ولې د نېشه يي توکو په نامه نه نوموي او دهغو پرخلاف نړيواله مبارزه نه پيلوي؟!

که د کوکنارو کروندې له منځه وړل کيږي دا د انگورو په باغونو ولې اور نه پورې کېږي او د مميزو مارکيټونه ولې نه ړنگيږي؟!

نن په نړۍ کې تر کوکنارو د نېشه يي مصنوعاتو ډېرې سلنه خواږه انگور جوړوي.

له ځمکې راټوکېدلي نباتات زهري کيدلای شي خو هيڅکله نېشه يي نه شي کيدای دا همدا انسانان دي چې نېشه يي کوي يې.

په ټوليز ډول الله جل جلاله هيڅکله زيانمن بوټي او موجودات نه دي پيدا کړي په همدې لامل د کوکنارو په بوټي کې دومره بدرنگي نه ده نغښتې څومره يې چې نړۍ بدرنگوي. بايد په ملي او نړيواله کچه د شرابو جوړوونکو، شراب پلورونکو، شراب څښونکو، د هيروئينو توليدوونکو او رواجوونکو پرخلاف مبارزه وشي، نه د انگورو، وربشو او کوکنارو د کرونده گرو پرخلاف!

که د مبارزې ډول همدا ډول وي بشر به د خدای ورکړو نعمتونو او ميوو له نعمته خلاص شي.

که په طبيعي ډول په يوه سيمه کې يو څه ډېر پيدا کيږي ددغه طبيعي ډېرښت مالک خو د کائناتو خالق دی رحمن او رحيم مالک د انسانانو پرخلاف عمل نه دی کړی او ټول نباتات او مخلوقات يې په ټوليز ډول د انسان د گټې په موخه پيدا کړي دي.

که پريکړه په سماوي او انساني قانون وشي له شرابی سره يو ځای د انگورو بڼوال هم مجرم، ثابتيدلای شي؟!

الله رب العزت چې څه پيدا کړي په حکمت يې نازولي او په هيڅ صورت د بشر له اړتياوو زيات نه دي.

هر هغه څه چې د يوه هيواد صادرات وي د نورو هيوادونو او ملتونو لپاره اړين واردات کيدلای شي که د انساني اړتيا وړ څيزونو کچه زمونږ په کور کې زمونږ تر ضرورته زياته وي د دنيا د کلي تر ضرورته خو زياته نه ده او نن بشري علمي، اقتصادي او طبي پرمختگ بشر په همدغه ډول تړاو او اړتيا سره تړلی دی او دا انسان دی چې د ژوند اړين وسايل د ژوند پرخلاف کاروي او د ژوند وسيلې کوم قصور نه لري.

يو چوپان دومره حق لري چې خپله رمه له لېوانو وساتي او که ليوۀ يې په رمه ور گډيږي د غاښونو د ماتولو حق يې لري، موږ هم دومره حق لرو چې له ماشو او مچانو ځان وژغورو او خوني ته مو جالی ولگوو، خو دومره حق کله لرو چې لېوان په ځنگل کې او مچان په دنيا کې پرېښږدو ځکه دا د الله جل جلاله د حکمتونو په جوړ نظام او طبيعت کې د مخلوقاتو د اشرف (ښاغلي انسان) ښکاره لاسوهنه ده او ناځرگند خطرناک عواقب له ځانه سره لري.

بشري پرمختگ خو نن بشر ته د کوبرا مار خطرناکه او وژونکي زهر گټور ثابت کړي او د پرمختللې نړۍ اړوند متخصصين خو په خطرناکو ځنگلونو او غرونو کې د مارانو د زهرو د ترلاسه کولو په موخه د مارانو پسې پرتوگ ښکلي گرځي او د مارانو د روزلو فارمونه يې جوړ کړي که د نېشه يي توکو په نامه له کوکنارو سره مبارزه کوم سياسي لامل او موخې ونه لري له دې بوټي هم دبشر په خير کار اخيستل کيدلای شي.

په همدې سياسي لاملونو، ددې بوټي د کر، د نېشه يي توکو قاچاق او له هغو ځخه د لاسته راغلي پانگې سلنه د سانتي گراد په کچه لکه د هوا حالات او د اسعارو بيه هره ورځ خلکو ته تبليغيږي.

او ويل کيږي چې مخالفينو ته له دې لارې دومره ميليونه ډالره پانگه په لاس ورځي د توليد کچه يې دومره پورته شوې او هم دومره زره هکتاره جريبه ځمکه کرل شوی او دومره زره ټنه ترياک توليد شوي او دا د نړۍ د نېشه يي توکو ۹۰ سلنه جوړوي.

خو که ددوی د شرابو ډک بوتلونه په يوه وار زموږ د هېواد په سپين غره راتش شي شونې ده چې د سپين غره په لمنو کې زمونږ اوسيدونکي هيوادوال به د شرابو سېلاب وخېي او ختين کورونه به يې د شرابو په سېلاب کې خته شي. سرې هک پک شي چې دا سروې زموږ د هېواد او نړۍ په کچه څه ډول ترسره شي د ستر گو په رپ کې زموږ د هېواد ټولې ځمکې جريب شي د هېواد او ټولې نړۍ نېشه يي توکي وتلل شي او دهغو کچه او سلنه راوايستل شي حقيقت دادی چې دا يوه سياسي لوبه او يوه لاره له هغو لارو ده چې په هېواد کې پرې د امن د غليمانو د تمويل ذريعې او بهانې جوړيږي، ځکه په سيمه کې د ځينو عناصرو په لاس دناامنی دوام د نړۍ د لويو دجالانو پروگرام دی.

خو که واقعيت ته پام واړوو د خوار بزگر د کوکنارو او يا د کوم ورکځان په پيسو له نړۍ سره جگړه او دښمني په هيڅ ډول يو شونی کار نه دی او خندوونکې خبره ده.

په همدې لامل باور کېږي چې کېدای شي يوه ورځ د نېشه يي توکو پرخلاف د نړيوالې مبارزې د مدعيانو له رسنيو واورو چې د افغانستان په جنوب لويديځو ولايتونو کې د هغو بزگرو په کورونو کې چې د کوکنارو کار او کر کوي چرگانو يې په دوامداره ډول د کوکنارو تنکی پاڼې او گلان خوړلي له همدی لامله ددغو چرگانو په هگيو کې يو ډول ځانگړی نېشه يي کيفيت محسوس شوی چې اوس مخالفين د همدې هگيو له قاچاقه ډېره پانگه لاسته راوړي او له نېشه يي توکو سره د نړيوالې مبارزې په وړاندې تر نېشه يي توکو ستره او يوه بله ستونزه رامنځته شويده ځکه که نړيوالو د کوکنارو بوټي په ځو باړو وهلی شول خو اوس د مرغانو نړيوال مدافع او ساتونکی سازمان اجازه نه ورکوي چې دوی چرگان ووژني او نه خو مخالفين بزگر پرېږدي چې خپل چرگان او دهغوی هگی په بل چا وپلوري.

په همدې لامل دا بريا او مبارزه ډېره ستونزمنه شوه او افغانستان به تر راتلونکو پنځو کلونو، پنځو مياشتو، پنځو ورځو، پنځو ساعتونو، پنځو دقيقو او نهه پنځوس ثانيو پورې د ناامنی له سختو ستونزو سره مخ وي ځکه وسله وال مخالفين تر همدې مودې د همدې نېشه يي کيفيت لرونکو هگيو د قاچاق په پيسو د افغان او نړيوالو ځواکونو پرخلاف جگړه جاري ساتلای شي.

باور لرو چې د هېواد ډيری پوهان به د کوکنارو د عوايدو په څېر د نېشه يي هگيو د عوايدو خبره او زماني بهير هم يوه ډرامه او خندوونکې خبره ونه بولي دا ځکه چې د کمزورو او سرماتو ولسونو حالت په شعوري او غير شعوري ډول په دې ډول دی چې زورور وايي آس والوت او له ځمکې سره په ۵۰۰۰ متره ارتفاع کې يې په ساعت کې ۲۰۰۰ کيلومتره هوا وهله دوی د آس په الوتلو کې له زورورو سره هيڅ کوم اختلاف نه لري او د الوتلو لپاره د طبيعي او مصنوعي وزرونو لرل اړين نه بولي.

يوازې ددغو هېوادونو او ولسونو ډېر هوښيار او ايمانداره به دومره وايي چې ۵۰۰۰ متره ارتفاع نه ۲۵۰۰ او په ساعت کې ۲۰۰۰ کيلو متره هوا نه، يوازې ۱۰۰۰ کيلو متره هوايي وهله.

يقين لرو چې ددغه ډول خبر په اړه به هم هيڅوک دا ونه وايي چې د آس او خره الوتل د خندا خبره ده. نن د همدې ډول کاذب ذهنيت په خپرولو کې زموږ د هيواد يو شمير پوهان او د پوهنتون استاذان د زورورو د هرې خبرې په تأييد خپل ضمير آزاروي او يو شمير هم لا ورته قرآني آيتونه او نبوي حديثونه په گوته کوي او وايي چې مسکرات حرام دي.

خو که له دوی وپوښتې چې بې له شکه مسکرات حرام دي خو دغه د مسکراتو آيتونه او حديثونه چې د کوکنارو د بوټي په اړه راوړئ دا ويلای شئ چې کوکنار مسکر دي؟!

که کوکنار مسکر دي انگور، مميز وربشې او نور حبوبات او ميوه جات به ولې مسکرات نه وي؟! دوی ته هم بايد د حراموالي آيتونه او حديثونه په گوته شي.

شراب مسکر دي او کوکنار کرنيز محصولات دي چې تر نېشه يي کېدو او له نېشه يي هېوادونو د يوه خاص پوډر تر رارسيدو يو لوی واټن په مخکې لري.

باور لرو که ددنيا زورور ونه غواړي، ددوی خولو ته هره ورځ څوک مايک نه شي نيولای ددوی نظريې او غوښتنې سرې په دې شکمنوي چې دوی به ددې خاورې او هېواد اوسيدونکي وي؟!

دا بايد ومنو چې نن زما په خوار هېواد کې د نېشه يي توکو د کر او قاچاق په نامه يو سياسي سريال او ډرامه روانه ده.

راځی لږ فکر وکړو هغه څه چې د نېشه يي توکو په اړه نړۍ او موږ وايو هغه صادقانه او د ستونزو د حل لاره او له افغانستان سره مينه او يو معقول ملي بنسټ لرلای شي؟!

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
اړیکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

تعدادی از نامزادان انتخابات پارلمانی وابسته به گروه های مسلح شناخته شده اند

تعدادی از نامزادان انتخابات پارلمانی وابسته به گروه های مسلح شناخته شده اند

در حالی که زمان برای اعلان فهرست نهایی کاندیدان انتخابات ولسی جرگه افغانستان نزدیک می شود، روشن شده است که نزدیک به یک صد تن از افرادی که به نحوی با گروه های مسلح مخالف دولت افغانستان ارتباط دارند، خود را کاندید کرده اند.

این مطلب را احمد ضیا رفعت یکی از اعضای کمسیون شکایات انتخاباتی و سخنگوی این کمسیون در یک کنفرانس خبری ابراز کرد، اما گفت که این افراد برای دفاع از خود نیاز به دفاع دارند و باید [illegible]نج روز دیگر به کمسیون حاضر شوند.

وی در مورد گفت:

آن [illegible]اد از نامزادان انتخابات ولسی جرگه که گروه های مس[illegible] غیر قانونی وابسته گی [illegible] نمی توانند به عنوان نامزاد در [illegible]ابات ولسی جرگه شرکت ک[illegible].

۸۵ تن از شاملین لست ابتدایی [illegible]تخابات ولسی جرگه وابسته به گروه های نظامی غیر قانونی شناخته شده اند، کمسیون شکایات انتخاباتی از این اشخاص می خواهد که الی تاریخ ۱۴ جوزا جهت دفاع از خود به کمسیون مستقل انتخابات مراجعه کنند.

وی درمورد هویت این افراد توضیح نداد، اما [illegible]ت که این افراد عمدتاً از ۱۸ ولایت [illegible]ن خود را کاندید کرده اند.

کمسیون مستقل انتخابات افغانستان قبلاً فهرست ابتدایی کاندیدان انتخابات ولسی جرگه را اعلان کرده اند.

بر اساس این فهرست، بیشتر از دوهزار و چهارصد تن از افراد خود را کاندید کرده اند و انتظار دارند تا با شامل شدن در فهرست نهایی که به تاریخ اول سرطان امسال منتشر می شود، در کمپاین های انتخاباتی نیز اشتراک کنند.

اما احمد ضیا رفعت گفت، اعتراض های زیاد نیز به آنان رسیده است که نیاز است تا به صورت درست بررسی شوند.

آقای رفعت در مورد گفت:

حدود ۹۰ فیصد اعتراض ها از سوی متقاضیان انتخابات ولسی جرگه بود که در فهرست ابتدایی نامزادان ولسی جرگه راه نیافته بودند. در حقیقت آن اعتراض ها در مورد کمسیون مستقل انتخابات بود. اما ۱۰ درصد دیگر این شکایات برضد شماری از نامزادان ولسی جرگه بود که در فهرست ابتدایی راه یافته اند.

قرار است انتخابات ولسی جرگه افغانستان به تاریخ ۲۹ سنبله امسال راه اندازی شود.

د کونړ سیند پر سر د اوبو بند جوړولو تړون لاسلیک شو

کابل، رسنی:

د افغانستان د اوبو او انرژی وزارت د یوې ایرانی کمپنی سره لاسلیک کړی، چې پر اساس به یې د کنړ پر سیند د اوبو یو بند جوړ شي. د اوبو او انرژی وزارت سرپرست د یکشنبې په ورځ په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل، چې د دغه بند په جوړولو به تر دریو میلیونو امریکایي ډالرو ډېر ولګېږي.

تاکل شوې چې وروسته پر دغه بند د برېښنا یو دستګاه جوړه شي.

په افغانستان کې د اوبو او برېښنا د تولید د بندونو د جوړولو د هڅو په لړ کې، د اوبو او برېښنا وزارت د هېواد په ختیځ کې د اوبو د یوه بند د جوړولو نوی تړون لاسلیک کړ.

د دغه نوی تړون له مخې به د کنړ د سیند پر سر د اوبو یو بند جوړ شي او وروسته به د کمبیري په دښته کې د برېښنا یو بند جوړ شي.

د افغانستان د اوبو او برېښنا سرپرست وزیر محمد اسماعیل د یکشنبې په ورځ خبریالانو ته داسې وویل:

"د کنړ پر سیند به د شیګی په سیمه کې انشا الله د اوبو یو بند وتړل شي او اوبه به د ۱۳۵ کیلو مترو په واټن د جلال اباد ښار ته ورسوي.

همدارنګه به په ۳۵ کیلو متری کې یو بند جوړ سي چې ۴۵ میګاواټه برېښنا به تولید کړي، چې کنړ او جلال اباد ته به برېښنا ور کړي."

د اوبو او برېښنا سرپرست وزیر هـ[illegible] وویل، چې د اوبو ددغه بند په جوړ[illegible] درې میلیونه او یو لک امریکایي ډالره ولګېږي.

د دغه وزارت چارواکي وایي، چې تر دې وروسته د برېښنا بند او اوبو لګولو پروژې جوړول په نظر کې دي، چې د ډېر وخت تر څنګ ۴۲۰ میلیونو امریکایي ډالرو ته اړتیا لري.

د تړون پر وخت د توس اب ایرانی کمپنی یوه استازي وویل، چې دوی به د دې پروژې د ژر بشپړېدو لپاره به خپلې هڅې کوي:

"ډېر خوښ ي او مننه کوم، چې دغه ستره ملي پروژه د توس اب شرکت ته وسپارل شوه.

موږ چمتو یو ي په لږ وخت کي د دې پروژې څېړنه پیل کړو، موږ په ډېرو ځایونو کې کار کوو، خو په افغانستان کې له کار کولو سره مینه لرو."

د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت وایي، چې د برېښنا او اوبو د ډېرو بندونو د جوړولو څېړنې رواني دي، چې یو په بل پسې به یې کار پیل کړي.

خوعام خلک د دغه وزارت پر کارونو ډېر انتقادونه کوي، عام خلک او د چارو څېړونکي وایي، چې دغه وزارت په افغانستان کې د اوبو بندونو ته پام نه کوي او ډېرې اوبه یې ځایه کېږي.

همدا رنګه دوی وایي چې د اوبو اوانرژی وزارت یوازې د هېواد څو سیمو ته برېښنا فعاله کړې او په نورو سیمو کې د برېښنا د نه شتون له امله سلګونه کمپنی بندي دي، چیې د خلکو اقتصاد ته یې زیان اړولی او بې کاري یې ډېره کړې ده.

ناتو به کشتار غیر نظامیان در ولایت "ارزگان" اعتراف کرد

کابل، رسانه ها:

نیروهای ائتلاف به رهبری امریکا پذیرفتند که ۲۳ غیرنظامی افغان در ولایت ارزگان با شلیک مستقیم این نیروها به قتل رسیده‌اند.

نیروهای ائتلاف به رهبری امریکا با انتشار اطلاعیه‌ای مسؤولیت قتل این ۲۳ غیرنظامی در ماه فبروروی سال جاری میلادی را پذیرفت.

در آن حادثه ۳ موتر حامل بیش از ۳۰ غیر نظامی افغان در تاریخ ۲۱ فبروری در ولایت ارزگان از سوی نیروهای بین‌المللی هدف قرار گرفتند که در نتیجه آن ۲۳ تن کشته و بقیه زخمی شدند.

نیروهای ائتلاف در این اطلاعیه اعتراف کرده اند که بر اساس تحقیقات این نیروها، تمامی این افراد غیر نظامی بوده‌اند و با شلیک این نیروها کشته شده‌اند.

این نیروها می گویند که هدایت کننده گان بی تجربه طیارات بدون پیلوت موجب کشته شدن ۲۳ تن غیرنظامی شده اند.

این اولین بار نیست که نیروهای خارجی با اعتراف به کشتار، وعده حفظ جان غیرنظامیان را به مردم افغانستان می‌دهند بلکه در گذشته نیز چنین وعده‌هایی به مردم افغانستان داده شده اما نه تنها کشتار غیرنظامیان متوقف نشده بلکه افزایش نیز یافته است.

حزب اسلامي د سولې جرګې ...

په دې جرګه کې ګډون کوي او د سولې په لورې دجدي پرېکړو غوښتونکی دی.

سوله او د جګړو ختمیدل د ملت تر ټولو اساسي ضرورت دی او حزب هیله لري دا جرګه بریالی پای ته ورسیږي او دا لازمی مطالب ترلاسه شي:

۱- دواړه خواوې دې د سولې په وړاندی ټول غیر عملی شرطونه او موانع لرې کړي.

۲- د سولې ملي مشورتی جرګه دې دداسې اشخاصو څخه یو کمیسیون وټاکي چې سولې ته معتقد او باورمند وي او د سولې د راوستو هلې ځلې په پوره باور او اخلاص تعقیب کړي.

۳- دا جرګه باید تبلیغاتی او نمایشی نه وي، بلکه د سولې په راوستو کې دې عملي ګامونه پورته کړي.

غونډه د هېواد د نومیالي عالم او جهادي شخصیت مولوي جانباز سرفراز په دعایه پای ته ورسیده.

وزارت اقتصاد اظهارات ...

تا موضوع را به صورت جدی و همه جانبه بررسی نمایند ، که نتایج آن هر چه زودتر به دسترس مطبوعات و مردم شریف افغانستان قرار خواهد گرفت.

وزارت اقتصاد در این اعلامیه از تمام ارگان های دولتی و غیر دولتی ، رسانه ها و مردم مسلمان افغانستان خواسته است که، در همچو موارد با وزارت اقتصاد همکار باشند.

این وزارت در اخیر به نقل از اعلامیه، اظهارات غیر مسؤولانه که از سوی گرداننده تلویزون نورین به آدرس عبدالهادی ارغندیوال وزیر اقتصاد و در عین زمان ریاست حزب اسلامی افغانستان را نیز به عهده دارد نسبت داده شده دور از نورم های قبول شده خبرنگاری و اخلاق ژور نالستیک میداند.

به نقل از اعلامیه این اظهار را کاملاً عاری از حقیقت دانسته و نگاشته است که، در آینده از گرداننده این تلویزیون نورین جداً خواسته میشود تا از این گونه کلمات در برابر وزارت اقتصاد خوداری کنند.

به نقل از اعلامیه، معقولیت ایجاب مینمود تا این رسانه معلومات دست داشته خود را در مورد این موسسه غیر دولتی به منظور وضاحت و بررسی بیشتر با وزارت اقتصاد شریک مینمود.

شواهد موثق در خصوص فعالیت ...

به کمک های نظامی برای مخالفان مسلح دولت شواهد دقیق دارند. مک کرستال می گوید، که آنان برای جلوگیری از این نوع فعالیت های ایران اقداماتی روی دست دارند .

وی افزود:

شواهد موثق در خصوص فعالیت ایران در افغانستان موجود است، ایران به مخالفان مسلح دولت اسلحه و آموزش های نظامی می دهد، و ما تلاش می کنیم تا این فعالیت ها را در حال حاضر محدود و در آینده مانع آن شویم، تا جای که ما می بینیم ایران در خاک خودش به مخالفان مسلح دولت آموزش می دهد، و ما شاهد هستیم که مخالفان از قلمرو ایران وارد خاک افغانستان می شوند. از سوی دیگر از طریق ایران به افغانستان اسلحه انتقال داده می شود، و ما به خاطر جلوگیری این فعالیت ها یقیناً کار می کنیم.

اما جنرال مک کرستال این را نه گفت، که آنان چگونه جلو فعالیت های تخریب گرانه ایران را خواهند گرفت، و برای این کار چگونه اقداماتی روی دست دارند. از سوی دیگر این جنرال امریکایی این مطلب را هم واضح نه ساخت که آیا این فعالیت ها در نتیجه ترغیب حکومت ایران صورت می گیرد یا حلقات دیگری نیز در آن دست دارند.

در افغانستان پیش از این نیز در رابطه به دست داشتن ایران به مسایل افغانستان اشاره های شده بود، اما تا حال شواهدی در این خصوص وجود نداشت، آنچه که جنرال مک کرستال در گفتار خود به آن اشاره کرد .

کارشناسان افغان تنها ایران را به دست داشتن در نا امنی های افغانستان شریک نمی دانند بلکه آنان می گویند، برخی از همسایه گان دیگر افغانستان نیز برای به دست آوردن اهداف خود با زنده گی افغان ها بازی می کنند.

دست داشتن همسایه گان در مسایل داخلی افغانستان کدام گپ تازه نیست، بلکه آنان در جریان جنگ های داخلی برای به دست آوردن اهداف خود از گروه های مختلف حمایت کرده اند.

شماری مردم به این باور اند، که دست داشتن برخی از کشور های همسایه افغانستان به مسایل این کشور از بین نمی رود، اما جامعه جهانی تلاش می کند تا به نتیجه مثبت در این راه دست یابد.

مجددي: خلیلي هزاره قوم ...

دویم مرستیال محمد کریم خلیلي څخه وشي، چې په وینا یې هغه هم په دې معامله کې له صدیق چکري سره شریک و. تېر کال د ولسمشر دوهم مرستیال کریم خلیلي دحج دتنظیم دچارو د کمیټې مشر و او دحج او اوقافو سر پرست وزیرصدیق چکري چې اوس پرې د څلورنیم میلیونو ډالرو اختلاس تور پورې شوی ددې کمیټې غړیتوب درلود. لویه څارنوالي وایي چې د صدیق چکري دوسیه یې بشپړه کړې او محکمې ته یې استولې ده، خو لا تر اوسه یې له کریم خلیلي څخه په دې موضوع کې د پوښتنو، ګروېږنو په اړه څه نه دي ویلي.

ناټو: په افغانستان کې سختې ...

(د جګړې له ډګر څخه خپلو سیمو ته د مخالفینو بیرته راویستل او د حکومت هڅونه چې د هغوي په سیمه کې خدمات ترسره کړي، یوې شفافې او هر اړخیزې پروسې ته اړتیا لري، خو دا باید په ملي او محلي توګه پر مخ یوړل شي څو پایلې یې ښه وي.)

په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قومندان دغه راز وویل، چې د دوي په وړاندې په دې هېواد کې سختې ورځې په مخ کې لري، خو زیاته یې کړه چې دوي به د سولې او ثبات د راوستلو په برخه کې له ټولو امکاناتو څخه کار واخلي.

په دغې غونډه کې د افغانستان لپاره د ناټو ملکي استازي مارک سیډویل بیا د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکو ته اشاره وکړه او زیاته کړه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ همغږي کولای شي، افغانستان او پاکستان د تروریستانو له ګواښ څخه بچ وساتي:

پاکستان د افغانستان د امنیت په تامین کې مهم رول لوبوي او افغانستان هم کولای شي ورته رول ادا کړي.

ترهغې چې دواړه هېوادونه د تروریزم له ګواښ څخه بچ نه شي نو دواړه هېوادونه مصون نه شي پاتې کېدای او له همدې امله نه یواځې دغه دواړه هېوادونه بلکه نړیواله ټولنه هم باید کوښښ وکړي، چې له دغې بهیر څخه ملاتړ وکړي.

د ناټو چارواکي په داسې حال کې د تروریزم په وړاندې د دواړو هېوادونو په ګډو هڅو باندې تاکید کوي چې د راپورونو پر بنسټ د پاکستاني تروریستانو له لاسه افغانستان ته زیات ځاني او مالي زیانونه اوښتي دي او له همدې امله پرې د افغان حکومت چارواکو تل په سختو نیوکې کړې دي.

خو پاکستان په ډېرو برخو کې دغه تورونه ردوي او زیاتوي چې د دوي د تروریزم په وړاندې جګړه کې د افغانستان او پاکستان د ګډې پولې په اوږدو کې زیات څه کړي دي.

د کابل جلال آباد دویم او ...

او ښیګنه یې په دې کې ده چې د اوږدې مودې لپاره حفظ او مراقبت ته اړتیا نه لري، که څه هم بیه یې لوړه ده خو تر شلو، پنځه وپشتو کلونو پورې له ترمیم پرته کار کولای شي ".

د کابل، جلال اباد د دوهم سړک د لومړی برخې د جوړولو د کار تړون له پنځوس ملیونو امریکایي ډالرو څخه په زیاتو پیسو له افغان جرمن شرکت سره لاسلیک شو او د سروبي جبل سراج د سړک جوړولو کار چې لګښت یې له پنځه ویشت ملیون ډالرو څخه زیا اټکل شوی دی، هیوادوال او د کارپوه په نوم یو ازربایجاني شرکت ته ورکړل شوی دی.

ویل کیږي، چې د دغو سړکونو د جوړولو لپاره د اسیا پراختیایي بانک د ۴۰۰ ملیونو ډالرو مرستې ژمنه کړې ده.

د کاپیسا والي خواجه غلام غوث ابوبکر هم چې د دغه تړونونو د لاسلیکولو په غونډه کې حاضر و، د افغان دولت له چارواکو څخه یې د دغه اقدام له امله د کاپیسا ولایت د خلکو په استازیتوب مننه وکړه:

"د کاپیسا ولایت د خلکو له لوري له تاسو مننه کوم، چې د ولسمشر او لومړي مرستسیال له لارښوني او د خلکو له غوښتنو سره سم مو دې برخې ته پام واړو او د یوولس شمالي ولایتونو د اوسیدونکو د هیلو د پوره کولو لپاره مو هڅې وکړې ".

ټاکل شوې چې د کابل جلال اباد د دوهم سړک د لومړی برخې کار تر راتلونکو دریوو کلونو او د سروبي جبل السراج د سړک د جوړولو کار تر راتلونکو دوو کلونو پورې بشپړ شي.

که څه هم د افغانستان د فوایدعامې وزارت په تیرو څلور ورستیو کلونو کې د سړکونو د جوړولو کیفیت ښه ارزوي خو داسې شکایتونه موجود دي، چې ډیري سړکونو تر جوړولو لنډه موده ورسته بیارغونې ته اړتیا پیدا کوي، چې تر ډیره دغه کار پړه هم جوړونکو شرکتونو ته وربه غاړه شي.